# معز الله مومند او رومانيت

## Maazullah Khan Momand and His Romanticism.

**Wazir Shadan.**

Abstract: Maazullah khan Momand (1085AH- 1177AH) is one of the Pukhtoon Idealist moralist-Poet of the classicist Pukhto era. He through his moralist approach impressed the Pakhto folk and is stil considered to be in live with great Khushal Khan and moralist- Sufi Rahman Baba.This shot article attempts to find out Idealistic elevation in the fine verses of Maazullah Khan Momand that leads to enter through the romantic imagination and truly idealistic vision once aspired for humanbeings.During the cours of this article the writer finds very aply shares his view about the idealistic romanticism found in the major portion of Momand,s poetry which can be very relevant to matchthe world literature of this kind .Pakhto poets (and artists) especially Momand is unique in putting forword the Pakhtoon ethics to get them idealized, universalized and romanticized to be adopted for all the races and for allthe times.

کلاسيك او رومانيت دوه داسې ادبي اصطلاح ګاني دي چې تر ډېره حده د يو بل په ضد راغلي دي چې کله د کلاسيکيت همنوا زيات شوي دي نو هغه دور يې د کلاسيکي دور په نوم بللی دی او چې د رومانيت ملګري سېوا شوي دي نو بيا هغه دور هم د روماني دور په نوم ياد شوی دی. کلاسيکيت روايت دی. د ټاکلي شوي اصولو پابندي ده. د راکښلي معيار پېروي ده. ولې رومانيت د روايت نهٔ بغاوت دی. د خوشحالۍ ازاده سندره ده. د قدامت په خلاف د جدت لاره ده.

"کلاسيك په اصل کښې يورپي اصطلاح ده چې د ادبي رهنمائي دپاره به د يونان يا رومن ليکونکيو ته رجوع کولی شو. هيئت پرستي، قدامت پرستي، عقليت اصول پسندي او اعتدال د کلاسيکيت خاص کړهٔ وړهٔ دي.......

کلاسيکيت د نوي په تضاد کښې راځي. هغه کار چي د روايت مطابق وي کلاسيکيت دی او چې د روايت په ضد وي جديد دی. د هر دور جديديت په راتلونکي وخت کښې کلاسيکي شي او د هر کلاسيك خلاف جديديت مخې ته راځي. کلاسيك د رائج روايتي ادب لاره ده. کلاسيکيت د روايت يوه محدوده دائره ده چې د مقرره اصولو او بندشونو اسلوبونه بغاوت نهٔ کېږي. په کلاسيکيت عموماً داخلي فکر وي"(1)

په انګرېزي ادب کښې رومانيت د کلاسيکيت په ضد د يو تحريك نوم دی. کله چې خلق د کلاسيکي دور د لفاظيت، يووالي، عقليت، قدامت، پابندي او ټاکلی ساخت (Form) څخه تنګ راغلل نو د رومانيت طرف ته رجوع وکړه.

"د رومانيت نه اګاهو د اتلسمې صدۍ کلاسيکي ادب 1660ء تا 1798ء په روايت، قدامت او ځينې فرسوده اصول بنا وو. غېر فطري او تر ډېره حده رسمي ؤ. سياسي او غېر يقيني ؤ. او د دې کلاسيکي ادب شاعران محض د حکومت وخت آله کار وو. هغوئ عام عوام څخه هېڅ مينه نۀ وه. دغه وجه ده چې د دوئ مصنوعي طرز تحرير کښې هېڅ ساده او حرکت نۀ ؤ. د دوئ شاعري بس صرف د لاطينۍ ژبې د ګرانو الفاظو ذخيره وه. د دې قسم ادب خلاف يو باقاعده تحريك احتجاج، رد عمل او نفرت پيدا کېدل يو فطري امر ؤ چې د رومانيت په شکل کښې ظاهر شو"(2)

ګويا کلاسيکيت يا کلاسيزم د کلاسيك نه وتلی لفظ دی کوم چې د يو معيار، اصول، تنظيم او طرز نوم دی. دغه ټکی اول اول د يونان او روم زړو فن پارو دپاره استعمال کړی شو خو وروسته په ادبي ډګر کښې يو معيار او طرز (Style) وګرځېدو او ډېرو شاعرانو د کلاسيکيت په دغه لار بنۀ په توندۍ يون وکړو.

"ټن سبا هر هغې فن پارې ته کلاسيك وايي چې د فن او د اسلوب افاقي خوبۍ لري. او خصوصيات يې پائيدار وي. ژبه يې پخه او سنجيده وي. مضمون او خيال يې د زمان او مکان حدونه څيرې کولی شي. د هر وخت سره چلېدای شي. هر ځائ کښې ځان ته ځائ کولی شي. د زمانې په تول پوره وي"(3)

"د دنيا د هر ادب تقسيم عام طور سره د کلاسيکي ادب او رومانوي ادب په ذريعه شوی دی. د رومانوي ادب دپاره تنوع، عمل، حرکت او ځلنده مستقبل ډېر اهم دی. کلاسيکي ادب لفظ و بيان او اسلوب ته توجه ورکوي. دې کښې د تنوع برعکس د وحدت او تنظيم عنصر زيات جوت دی"(4)

"هيئت پرستي، قدامت پرستي، عقليت، تنظيم، اصول پسندي او اعتدال د کلاسيکيت جوت کړۀ ورۀ دي"(5)

"د کلاسيکي او روماني دور بنيادي فرق دا دی چې اولنی د پابندۍ نوم دی او دويم د ازادۍ"(6)

"چې کله یوې فن پارې ته د کلاسیکي فن پارې نوم ورکولی شي نو د دې عام مطلب دا وي چې په کښې د موادو په ځائ هیئت ته توجه ورکړلې شوې ده. تکنیکي غړوندي په جذبه او بیان حاوي دي. په جذباتو کښې د لاهو کېدو په ځائ د ضبط او اعتدال نه کار اخستلی شوی دی. ادب پاره چې په کوم هیئت کښې ده د هغه ټولو اصولو پابندي شوې ده. د فني او ادبي روایت پوره پوره خیال ساتلی شوی دی. په تخیل او تخلیق یې د ادبي اصولو او قاعدو کرښه راکښلې ده"(7)

د قسطنطنیه د زوال سره سم د باز نطیني عیسائي مملکت زوال وخوړو. خو د دې سره یورپ ته ګټه وشوه او هغه داسې چې د یونان او روم تکړه تکړه عالمان یورپ ته په کډه لاړل او دغه رنګ یې د نشاة الثانیه تحریک بنیاد کښېښودو. په یورپ کښې د دې تحریک غټ خصوصیت د زړو یوناني او روماني کتابونو کښې د هغه خلقو دلچسپي اخستل وو.... د نشاة ثانیه نه وروستو چې په یورپ کښې د ادبي تنقید کوم دور شروع کېږي. هغې ته نو کلاسیکي دور وئیلی شي. د هغې دور غټې خبرې دا وي چې وروستني خلق به د خپلو مشرانو په قدم قدم ږدي. د هغوئ به نقل کوي. ځکه چې د هغې نه ځان له لیکل ناممکنه ده. څرګنده ده چې دا د رومي لیکوالو او د ارسطو د رومي تفسیر د نتیجې اثر ؤ. د ادب مقصد فقط خوشحالي استول نهٔ دي بلکې اخلاقي درس ورکول هم د ادب برخه ده. ډرامه لیکونکي به د دې وحدتونو خیال ضرور ساتي ځکه چې دا د ارسطو او نورو پخوانو لیکوالو سبك دی. د غم او خوشحالۍ ګډون به یو ځائ نهٔ کوي. شعر محض د وجدان شی نهٔ دی بلکې د دې دپاره د ډېر محنت او کاوش (**Art**) ضرورت دی. شاعر به ټول عمر د خپل کلام اصلاح کوي........ دغه هرڅهٔ یې د ارسطو سره وتړل او یو ادبي قانون یې جوړ کړو او د دې قانون ماتول یې غټ جرم و شمارلو"(**8**)

د دې اوږده بحث لنډیز دا شو چې کلاسیکیت یا کلاسیك یا کلاسیکي اثر هغه لیك دی چې زمونږ مشرانو شاعرانو ادیبانو د یو څو خاص اصولو او پابندیو په چوکاټ کښې لیکلی دی او هغه لیك د وروستني خلقو دپاره یوه نمونه او ماډل ګرځېدلی دی. ټاکلی اسلوب و بیان، افاقیت و عقلیت، وحدت و تنظیم د کلاسیکیت جوتي خوبۍ دي. وروستني لیکوالو دپاره لازمه ده چې

هغـوئ بـه د دې اصـولو پابنـدي کـوي. خپـل پـه خـواني ليکـوال بـه مـاډل ګڼـي او د هغـوئ د ليکونـو د اثـر لانـدې بـه ليـك کـوي. پـه انګرېـزي او اردو ادب کښـې ترڅـۀ حده د کلاسيکيت خپل دور دی او د رومانيت خپل دور دی.

"پـه پښـتو ادب کښـې د خوشـحال خـان خټـك نـه تـر احمـد شـاه بابـا پـورې دور پـه خصوصـيت سـره کلاسـيکي ګڼلی شـي. د ادبـي معيـار دپـاره اکثـر د دغـه دور نـه اسـتفاده کـولې شـي. د احمـد شـاه بابـا نـه پـس پښـتو ادب کښـې زبردسـت جمـود پيـدا شـو. دې دور تـه بنجـر او شـاړ دور ويلـی شـي. د انګرېزانـو تـر راتلـو پـورې دا دور شنډ دی"(**9**)

خـو زمـا پـه خيـال پـه پښـتو ادب کښـې کلاسـيکيت او رومانيـت تـر ډېـره حـده برغـونی مسـافر دی. زمـونږ ډېـر شـاعران داسـې دي چـې پـه يـو وخـت کلاسـيکيت هم لري او رومانيت هم.

رومانيت څۀ ته وايي بايد چې يو څو خبرې پرې وکړلی شي.

"پـه انګرېـزي ژبـه کښـې رومانټـك (Romantic) يـا رومـانوي لفـظ پـه اول ځـل ايـچ – مـور پـه خپـل کتـاب "ابـديت روح" کښـې اسـتعمال کـړو. پـه اولسـمه صـدۍ کښـې دا لفـظ د داسـې قيصـو د اظهـار دپـاره بـه اسـتعمالېدو کـومې بـه چـې د رومـانس نـه ډکـې وې. د مثـال پـه توګـه د تخيـل الـوت، غېـر حقيقـي واقعـات وغېـره ...... پـه انګلسـتان کښـې د رومانيـت غټـې غټـې خبـرې دا وې: جذبـه، د فطـري منظرونـو خوښـونه، پـه تېـره زمانـه کښـې دلچسـپي، تصـوف، انفراديت، کلاسـيکيت نـه بغـاوت، د کليـوال ژونـد سـره تـړون، د تنظـيم نـه بغـاوت، د تخيـل ازادي، فطـرت تـه نزدېکېـدل، د انسـاني حقوقـو حاصـلولو دپـاره زيـار، د څـاروو د ژونـد سـره مينـه ، جـذباتي الميـت، پـه نـاول نګـارۍ کښـې جـذبات نګـاري. دې سره سره د هيئت په لحاظ هم رومانوي تحريك ګڼ خصوصيات لري"(**10**)

"کلاسـيکيت او رومانيـت پـه حقيقـت کښـې دوه متضـاد ادبـي رجحانـات دي. جـذباتيت، د فکـر آزادي، نرګسـيت، انانيـت، انفراديـت پسـندي، وسـعت، فطـرت پرسـتي، جـدت، جـوش، تصـورئيت و مثاليـت د ادبـي معاشـرتي او سياسـي قيـدونو خـلاف بغـاوت، مـافوق الفطـرت حيروانـوونکي څېزونـو سـره مينـه، تصـوف تـه پاملرنـه، کليـوال ژونـد تـه رجـوع، بـې سـاختګي، د هيئـت پـه

ځای مواد ته توجه، د زړو طریقو نه بغاوت، د عقل په ځای د وجدان بادشاهي، فطرت پسندي او د تخیل رواني د رومانیت جوتي خوبۍ دي"(11)

"د رومانوي دور اکثر نظمونه د ذهن په ځای زړه ته، د فکر په ځای جذبې ته، د دلیل په ځای تخیل ته اپیل کوي. دې نظمونو کښې براه راست پند و نصیحت او د اخلاقیاتو درس نهٔ شته. که څهٔ دی هم نو هغه بالواسطه دي. دې ادب کښې خالص اخلاقي، واعظانه، طنزیه او هجویه نظمونه نهٔ شته"(12).

"چې یو انسان د خپل ذات، د جذباتو شدت د فطرت د رنګین عکسونو په رڼا کښې محسوس کړي او محض جذبات نه مغلوب نهٔ شي نو دغه رومانیت دی. د کومو شاعرانو په کلام کښې چې تصوف، وحدت الوجود، وحدت الشهود، پند و نصیحت یا قومیت، د جذبات شدت څخه بیان وي نو مونږ هغوی د صوفي یا قومي شاعر په حېث پېژنو او که عشق و محبت د اندروني کیفیت دغه څړیکې او دردونه ډکې نغمې او اشعار د فطرت په رنګینو رنګین حسن و جمال معتلق وي نو مونږ ورته رومانوي شاعر وایو"(13).

کلاسیکیت په هیئت، عقلیت، دلیل او اخلاقیاتو زور ورکوي ولې رومانیت د تخیل، فطرت سره مینه، ازادي، خوشحالي او د انفرادیت څرګندونه ده"(14).

دا حقیقت په ځای دی چې کلاسیکیت جدا سبك دی او رومانیت جدا، تضاد او ځانګړي اصول د دوئ ښکلا او حسن دی. خو ولې د دې خبرې څخه انکار هم ګران دی چې په دواړو کښې څهٔ داسې نهٔ پرېکېدونکې اړیکې شته چې د یو بل اهمیت او ضرورت سېوا کوي. د دې مطلب دا کېدای شي چې کلاسیکیت د رومانیت نه بغېر او رومانیت د کلاسیکیت نه بغېر نیمګړی دی او دا شاید ځکه چې دنیا په تضاداتو بنا ده. د شپې قدر په ورځ دی او د ورځې قدر په شپه. که رڼا نهٔ وای نو تیارهٔ به چا پېژندله او که تیارهٔ نهٔ وای نو د رڼا قدر به چرته وُ. دغه رنګ رومانیت او کلاسیکیت که هر څو د یو بل څخه تفاوت لري خو ولې بیا هم د یو بل د صحیح پېژندنې دپاره د واړو ضرورت پېښیږي.

عبدالرحیم مجذوب د رومانیت دپاره تغزلي قیصه ګی، ښکلې منظرکشي، فطري او مافوق الفطرت عناصر، حقیقت پسندي، مقصدیت،

تغـزل افرینـي (Lyricism) لفظـي مصـوري د یـو مـالائي تصـورات، نـوی هیئـت او ازاد خیال ضرور توکي ګڼي"(15)

"پـه آرټ یـا فنونـو کښـې عمومـاً او پـه فلسـفه کښـې خصوصـاً رومانیـت د منفـرد رجحـان پـه حېـث اول یـورپ کښـې او بیـا پـه روس کښـې خـور شـو. د دې شـروعات د اتلسـمې صـدۍ پـه اخیـر کښـې او د نولسـمې صـدۍ پـه شـروع کښـې شـوی دی. د یـو تحریـك پـه صـورت کښـې رومانیـت د نـوي کلاسـیزم پـه مقابلـه کښـې مـخ تـه راغلـی دی. د کلاسـیکیت پـه خـلاف دغـه بغـاوت د کلاسـیزم نـه سېوا د مشـیني او عقلیـت پـه خـلاف هـم راپوتـه شـوی دی. دا رومانیـت د نولسـمې صـدۍ اهـم تحریـك دی. لکـه څنګـه چـې جدیـدیت پـه شـلمه صـدۍ کښـې فـروغ مونـدلی دی. شـلمه صـدۍ د جدیـدیت صـدۍ ده. دغـه شـان نولسـمه صـدۍ د رومانیت صدۍ ده"(16)

د دې اوږد بحـث نـه پـس مـونږ پـه دې نتیجـه رسـو چـې رومانیـت خوشـحالي ده، ازادي ده، بـې سـاختګي ده، د چشـمو روانـي ده، د فطـرت پـه دلفرېبـه فضـا کښـې د مسـتۍ سـندره ده، رومانیـت د عشـق و محبـت قیصـې ده، د مینـې داسـتان دی. هـر څـو کـه رومانیـت د کلاسـیکیت خـلاف د یـو تحریـك نـوم هـم دی خـو د دې سـره سـره رومانیـت ګڼـې خـوبۍ لـري. پـه دغـه وجـه د هـرې ژبـې پـه ادب کښـې رومانیـت تـه هرکلـی ویلـی شـوی دی او هـر ادب د خپـل مـزاج سـره سـم رومانیت ځائ کړی دی.

پښـتون لـه ځایـه ازاد خویـه دی. پښـتون لـه ځایـه انفرادیـت پسـند او د انانیـت ښـکار دی. پښـتون جذباتي پیدا شوی دی. هـم دغـه وجـه ده چـې پـه معمـولي خبـره مـړی کـوي او پـه معمـولي خبـره سـر هـم ورکـوي. پښـتون مـن حیـث القـوم حسـن پرسـت دی. پـه ښـکلا مـین دی. هـم دغـه وجـه ده چـې فطـرت تـه نـزدې دی. کلیـوال ژونـد یـې خـوښ دی. ګویـا پښـتون د جمـال او جـلال امتزاجـي نـوم دی. دغـه واړه خـوبۍ کـه د یـو پښـتون کېـدای شـي نـو دغـه واړه خصوصـیات د رومانیـت دپـاره هـم ضـروري ګڼـل شـوې دي. شـاید دغـه موزنیـت دی چـې پښـتون او رومانیـت لـه ځایـه د یـو بـل ملګـري دي. د ادبـي تـاریخ نـه وړانـدې بـه هـم ملګـري وو او د ادبـي تـاریخ سـره سـم هـم ملګـري دي. د پښـتو د اولنـي شـاعر امیـر کـروړ نظـم د جـوش، جـذبې، انانیـت، فطـرت، د تخیـل ازادي، ګویـا د رومانیـت ډېـر عناصـر لـري.

پښتو ټپه د پښتو ادبي تاريخ د ټولو نه زوړ صنف دی. او که د ټپې په هر اړخ غور وکړلی شي نو زياتي ټپې د رومانيت شاهکار ماډل معلومېدای شي.

"رومانيت پښتو ته يو ناوخته راغلې اصطلاح ده. دا په اصل کښې (Romanticism) مترادف ده. په مشرقي ژبو خصوصاً په اردو ژبه کښې د رومان مفهوم غلط عام شوی دی. دغه مفهوم دومره خور شو چې پښتو کښې نزدې نزدې په هغو معنو کښې اخستل شروع شو. کومې چې يې اردو ادب اخستې وې. په عامه توګه د عشق، محبت او د ښايست سره تړلو احساساتو ته رومان ويلی شو. که څهٔ هم د رومانيت د خپلو معنو په اړخ له دغه کيفيت سره اړه لري خو ببخي د حسن و عشق سره تړل يې مناسب نهٔ دی. په پښتو کښې د تخيل د يو مخصوص انداز له مخه رومانيت له ډېره وخته ؤ. خو د تخيل له دغه بل رنګي سوا هم د خالص روماني انداز نوري غوښتني هم وې. رومانيت د کلاسيکيت په ضد راوتلی دی. د ټولو قاعدو قوانينو نه بغاوت او د خپل د دنيا ځان ته ځان پېژندل، ازادي، د فکر ازادي، انفراديت، لذت او سرور، خپل نفسياتي ضرورت د رومانيت په تشريح کښې اهم دی"(17).

لنډه دا چې د پښتو ادب هر دور په څهٔ نهٔ څهٔ ډول د رومانيت مظهر پاتې شوی دی خو کله چې د دانش قلم د ستر خوشحال خان خټک ګوتو ته راغلی دی. نو هغه نابغه روزګار که يو اړخ ته کلاسيکيت معراج ته رسولی دی. نو بل اړخ ته يې بيا ډېر کمال د رومانيت ګل ورينې وړانګې خورې کړې دي چې د رومانيت ټول رنګونه يې په کښې د زېړې زرغونې (قوس و قزح) په څېر ځائ کړي دي.

"د پښتو ادب په کلاسيکي دور کښې د تخيل تر حده تر ټولو ړومبی منفرد روماني شاعر ستر خوشحال خان خټک ګڼلی کېدای شي چې د ښايست د ټاکلي معيار نه يې بغاوت کړی دی. رومانيت د قاميت رنګ اخستی دی. خوشحال بابا د نظم نوی صورت و نهٔ ليکلو. مضمون يې روماني ؤ. تخيل او فکر کښې يې رومانيت راغی خو په شعر کښې يې د کلاسيکي اصنافو نه ځان شايد په دې و نهٔ ژغورلی شو چې کلاسيکي شعر په دغه ورځو کښې ځان ته يو علم ؤ او د دې علم د فروغ کار د خوشحال خان په نزد ضروي ؤ"(18).

د خوشحال د کورنۍ په پښتو ادب زيات احسانات دي. هغوئ په ځائ ويلي دي:

کــه د نظــم، کـــه د نثــر کـــه د خـــط دی
پـــه پښـــتو ژبـــه مـــې حـــق دی بـــې حســـابه

(خوشحال)

خــو د هغــې ســره ســره د رحمــان بابــا یــو خپــل انفــرادي ســبك دی. چــې ډېــر مقبول او معروف دی:

هـم نغمـې کانـدې هـم رقـص کـا هـم خانـدي
د رحمـــــان پــــه شــــعر ترکـــــي د بـــــاګرام

(رحمان بابا)

حمیـد بابـا د رومانیـت بېـرغ پورتـه کـړو. علـي خـان او کـاظم خـان شـیدا پـرې د رنګونـو بـاران وکـړو. د دې دور یـو درونـد نـوم د معـز الله مهمنـد هـم دی چـې پـه 1085هـ خـوا و شـا د عبـد الله خـان کـره پـه کوټـه محسـن خـان کښـې پیـدا شـوی دی. د وفات تاریخ یې 1170هـ خوا و شا دی.

"د معـز الله پـه غـزل کښـې فکـر ژورتیـا ښـۀ جوتـه ده. د عشـقیه وارداتـو ذکـر یې په اثرناکه ډول کړی دی او ټولې شعري خوبۍ لري"(19).

معـز الله خـان مومنـد د پښـتو نـه عـلاوه د اردو او فارسـي هـم ښـۀ شـاعر ؤ. د رحمان بابا د مکتب غړی ګڼلی شي.

"د شـعر چـې څـومره خـوبۍ او محاسـن وي. لکـه صـنائع بـدائع، تشـبیهات، اشـارات، کنـایې او اسـتعارې د لفظونـو ښایسـت، موزونیـت، جوړښـت او تـړون د عبـارت روانـي او سلاسـت، د خیـالونو نـدرت او تنـوع وغېـره وغېـره. دغـه ټـول د معـــز الله پـــه کـــلام کښـــې موجـــود دي. ښـــکلې تشـــبیهات او نـــازکې او لطیفـــې اسـتعارې او کنـایې د کـلام روح ګڼلـی شـي. پـه دې فـن کښـې معـز الله ښـۀ مهـارت او لاس لرلو او هر یو شعر یې په دې کالو آراسته او ښایسته کړی دی"(20).

د معــز الله خــان مهمنــد د شــاعرۍ انــداز و بیــان او مضــمون تــه چــې پــه غــور وکتلـی شـي نـو معلـومېږي چـې هغـوئ هـم کلاسـیکي شـاعر دی او هـم رومـاني. هغـــوئ د رومانیـــت مضـــمون پـــه داســـې هنـــر بیـــانوي چـــې هـــم د کلاســـیکیت نـــه بغـــاوت ښـــکاري او هـــم د کلاســـیکیت فـــانوس. د هغـــوئ د کلاســـیك شـــعرونه د اعلـــی درجـــې دي. دا رقـــم شـــعرونه یـــې د خپـــل کلاســـیکي دور څرګنـــده عکاســـي

کوي. د هغوئ ډېر شعرونه ظاهراً د کلاسیکیت ښکاره مظهر ګڼلی شي ولې پټ پېغام د رومانیت لري. د معز الله خان ژوند حادثو وهلی دی. ژوند یې تریخ دی. ارماني دی خو بیا هم د امید په همسا ولاړ دی. د یو داسې ژوند په هیله دی چې د غم نه بې غمه وي. خوشحالي وي. خندا وي او د خوشحالۍ د لحظو په انتظار وي.

په مقصد به دې لاس بر شي صبر وکړه
شګفته د چمن ګل کا صبا ورو ورو

معز الله په خپل کوشش کښې تقصیر مه کړه
تر مطلبه پورې رسي جویا ورو ورو

معز الله خان د شعرد نیلي هغه شهسوار دی چې د لفظونو واګې یې د تخیل په مضبوطو لاسونو کښې دي. د شعر نیلي ته په خپله خوښه د موزونیت شړك ورکوي. د موضوع په هر ډګر یې ښئه په تادي زغلوي او د شعر نیلی یې په داسې ښکلي رفتار روان وي چې قاري یې په لیدو واه واه کوي. د هغوئ کلام د هغوئ د پوخ شعور عکاسي کوي. د خپل دور سفارت ترسره کوي. د لوستو سره سم معلومېږي چې دا د یوولسمې، دولسمي صدۍ شعرونه دي. د مضمون او لفظونو انتخاب، قافیه او ردیف د الف نون ځانګړی استعمال، برجستګي او رواني ببخي د خپل دور ترجماني کوي.

د معز الله خان د شعر بنیادي کمال په شعر کښې جدت پیدا کول دي. او جدت د رومانیت ښکلا ده.

"په کلام کښې جدت پیدا کول هم یو فن دی او هم یو کمال، د جدت نه مراد دا دی چې د کلام په اورېدو اورېدونکی نویوالی، جاذبیت، خون او فرحت محسوس کړي. په کلام کښې جدت یا خو د نوو تشبیهاتو په سبب پیدا کېږي. یا یو خیال په نوي انداز کښې د پېش کولو سره پیدا کېږي او یا چې کلام د مقتضائې حال مطابق وي. یا الفاظو ته داسې ترتیب ورکړلی شي چې په شعر کښې تاثیر پیدا شي"(**21**)

هم دغه تاثیر و کمال د معز الله خان د شاعرۍ برخه ده ځکه چې هغوئ په روایت کښې جدت پیدا کوي. زوړ مضمون په داسې نوي ډول بیانوي چې

قـاري يـې پـه لوسـتو حيرانيـږي. كتـاب هـر څـوك لـولي، د دريـاب پـه مـخ هـر سـړی نظـر اچـوي خـو معـز الله خـان چـې د كتـاب او دريـاب څخـه كـوم مضـمون را وباسـي او په كوم هنر يې بيانوي. هغه د قادرالكلام شاعر برخه ده.

خـاموش يـم همـه ګويـا يـم لكـه خـط چـي د كتـاب
هـم ناسـت يـم هـم پـه تلـۀ يـم لكـه خـس پـه سـر د آب

پـه دې شـعر كښـې د خـط څخـه نـوي تشـبيهات و مضـامين را پيـدا كـړی شـوي دي. او داسـې بـر محـل لګـي چـې د جـدت تـاثير لكـه د جـادو زيـاتوي. دغـه رنـګ نـوې نكتـې مـخ تـه راوړي. د نكتـې نـه نكتـه ايسـتل كـه يـو خـوا د نكتـه افريني په زمره كښې راځي بل خوا د شعر خوند يو په دوه زياتوي.

"د خبـرې نـه خبـره ايسـتل او پـه نكتـه كښـې نكتـه پيـدا كـول د كـلام يـوه زبردسـته خـوبي ګڼلـی شـي. د داسـې خـوبۍ پـه بركـت پـه كـلام كښـې جـدت تـاثير او بـې سـاختګي پيـدا كيـږي. نكتـه افرينـي پـه دوه قسـمه وي. يـوې تـه لفظـي نكتـه افرينـي وايـي او بلـې تـه معنـوي نكتـه افرينـي. د لفظـي نكتـه افرينـۍ نـه مـراد د لفظونـو د ترتيـب تضـاد او اسـتعمال پـه داسـې طريقـه كـول چـي پـه كـلام كښـې نويـوالی او جـدت پيـدا شـي او د معنـوي نكتـه افـرين نـه مـراد پـه كـلام كښـې داسـې نكتـه پيـدا كـول چـې د لـږ فكـر نـه پـس پـه عقـل كښـې راشـي. نكتـه افرينـي لفظـي وي كه معنوي دواړه د شعر د فني او معنوي ښكلا سبب ګرځي"(22).

د معـز الله مومنـد پـه كـلام كښـې ځـای پـه ځـای د نكتـه افرينـۍ ملغلـرې پراتـې دي چـې يـو اړخ تـه د هغـوی د هنركـارۍ ثبـوت دی. بـل اړخ تـه د جـدت پـه زيږون د هغوی رومانيت ته تقويت وربخښي.

هـم خانـدم هـم ژړا كـړم د وريـځ پـه دود مـې كـار شـي
هـم سـم يـم هـم كـوږ ووږ يـم لكـه زلفـې د احبـاب
هـم وصـل يـم لـه يـاره هـم لـه وصـله يـې محـروم يـم
تشـنه يـم هـم غرقـاب يـم لكـه كـانړی د دريـاب

د وريـځ بريښـنا او څـاڅكو تـه د خنـدا او ژړا تشبيهـ وركـول زلفـو تـه د سـم او كـوږ سره او د دريـاب كـاڼي تـه تشـنه او غرقـاب پـه معنٰـی د بـې وصـاله او باوصـاله

ویـل و بیـان او فکـر دواړو پـه لحـاظ د جـدت، نـدرت او تـاثیر غـوره مثالونـه دي چې هم یې په لوستو قاري خوند محسوسوي او هم خوشحالي.

ازادي د رومانیـت خـوبي ده خـواه کـه هـه د فکـر وي او کـه د فـن، د روایـت نـه بغـاوت ازادي ده. د ټـاکلي معیـار څخـه سـر ایسـتل او اصـول پابنـدي نـۀ کـول د ازادۍ نـوم دی. معـز الله خـان د ازادۍ پـه تـلاش دی. ځکـه چـې هغـه رومـاني شـاعر دی او رومـاني شـاعر د ازادۍ شـیدائي وي. د معـز الله خـان پـه کـلام کښـې ځـائ پـه ځـائ داسـې ښـکاره اشـارې پـه نظـر راځـي چـې د هغـوئ د ازاد خیـالۍ څرګندونـه ترې کیږي.

څرګنـد یـم هـم مخفـي یـم لکـه غـر چـي پـه وریـځ کښـې
ازاد یـــم ګرفتـــار یـــم لکـــه بـــوئ وي د ګـــلاب
پـــــه نصــــیب مــــې لـــــه ازلـــــه ازادي ده
کـــه عـــالم د ځـــان پـــه غـــم زمـــا ښـــادي ده

پـه دې کښـې شـک نـۀ شـته چـې معـزالله خـان د کلاسـیك پیـاوړی شـاعر دی. خـو دا خبـره هـم لکـه د نمـر څرګنـده ده چـې د هغـوئ پـه کـلام کښـې د رومانیـت اثـر زیـات دی. د هغـوئ ډېـر شـعرونه داسـې دي چـې پـه کلاسـیکیت کښـې د رومانیـت سـندره وایـي. هغـوئ ګویـا رومانیـت د کلاسـیکیت پـه نـرۍ ربښـمي پـرده کښـې رانغـاړي. خـو نـور د شـمعې پـه فـانوس کلـه پټیـږي. یـو اړخ تـه کـه کلاسـیکیت د هغـوئ علمـي مجبوري وه ځکـه چـې معـز الله پـه خپلـه عـالم شـاعر ؤ او کلاسـیکیت د علـم معیـار، نـو بـل اړخ تـه رومانیـت د هغـوئ د ازاد فطـرت او د جـذباتو هینداره وه.

معـز الله خـان د عشـق او محبـت شـعرونه پـه جـوش وئیلـي دي. د فطـرت مطالعـه یـې لـه نـزدې نـه کـړې ده. د نـوو موضـوعاتو پـه نـوي انـداز بیـانولو سـره یـې پـه کـلام کښـې جـدت او نـدرت پـه زور دی. خپـل انفرادیـت یـې پـه شـعر کښـې څرګنـد سـاتلی دی. د تخیـل بـاز یـې د ازادۍ پـه لـوړو دنګـو غرونـو الـوت کـړی دی. تصـورئیت او مثالیـت یـې پـه زړۀ پـورې دی. پـه شـعر کښـې یـې جـذبې مسـتې پـه غورځنګونـو دي او دغـه ټـولې خـوبۍ د یـو روحـاني شـاعر پـه کـلام کښـې مونـدلی شي او هم دغه خوبۍ زمونږ د روماني شاعر معز الله خان د شاعرۍ برخه ده.

چې مجذوب شوم په جذبه د عاشقۍ
ځان ګڼم تر واړه خلقو هنرمند
چې یې مخ وینم د زلفو په هر خم کښې
ګویا نمر او سپوږمۍ وینم په تور تم کښې
لکه خیال د یار زما په خاطر ګرځي
جبرائیل نهٔ رېدي قدم په دا حرم کښې

خوشحالي محسوسول، د فطرت نه خوند اخستل، په فطرت کښې ازادي لټول، د ګل نه محظوظېدل د معز الله خان د روماني شاعرۍ خوبۍ دي چې په شعرونو کښې یې ځائ په ځائ لکه د ملغلرو پېیلې دي. د هغوئ کمال دا دی چې په قنوطیت کښې هم د رجائیت لمن نهٔ پرېږدي. په غم کښې د خوشحالۍ سندرې وايي. د ازغو په ولقه کښې په ګل نظر ساتي.

دواړه کسي مې په اوښکو کښې روښان دي
تازه پائي د نرګسو ګل په نم کښې
زهٔ به څنګه ستا و مخ ته قراری کړم
قراری و نمر ته نهٔ وي په شبنم کښې

اخلاقیات حسن دی او حسن د روماني شاعرۍ ستنه ده. د اخلاقیاتو نه پرېوتی شاعر کله هم ژوندی نهٔ دی پاتې شوی. د وخت سره د وخت طوفان په مخه کړی دی. ځکه چې د ژوند معیار په اخلاقو ولاړ دی چې اخلاق نهٔ وي نو ژوند بې خونده وي. معز الله خان په خپلو شعرونو کښې د اخلاقي حسن ډېوې بلې ساتلې دي. داسې ډېوې چې رڼا ورکوي خو سوځېدل نهٔ کوي:

مرتبه یې د ولیانو مبارك شه
که له قوله موافق وکا اعمال څوك
ثمره د نېك خوئي ده چې عیسٰی په اسمان و خوت
لا به ځي له بده خویه مخ په ښکته قارون هسې
سیم و زر چې ننه باسې په خپل کور
لګوي په خپله خونه باندې اور

بل اړخ تـه د معـز الله خـان نظـر ډېـر وسيع او تـر لـرې پـورې دى. د هغـهٔ پـه نظـر کښـې دا جهـان ډېـر وړوکـى دى. هغـوئ دې نيمګـړې جهـان تـه هـېڅ وقعـت نـهٔ ورکـوي. هغـه وايـي چـې پـه دې محـدود جهـان کښـې هرڅـهٔ محـدود دي. ژونـد محـدود، خونـد محـدود نـو ګويـا معـز الله د داسـې بـې پايانـه ژونـد پـه لټـون دى چرتـه چـې د حـد بندونـه نـهٔ وي. چرتـه چـې د اختيـار زولنـې د انسـان پـه پښـو کښـې نـهٔ وي. چرتـه چـې نيمګړتيـا نـهٔ وي. چرتـه چـې تکميـل وي. چرتـه چـې دائمـي خوشـحالي وي. چرتـه چـي مکمـل حسـن وي. چرتـه چـې مينـه وي، چرتـه چـې دائمـي ژوند او ازادي وي.

د عــالم وســعت کــه ګــورې تــر دوه ګامــه زيــاتي نــهٔ دى
لکــه راغلــى پــه پوښــتنه تــرې بــه ووځــي بهــرون هســې
پــرون ناسـت د تخـت دپاسـه نـن بربنـډ پـه تختـه پـروت دى
د فلــک ګــردش تــه ګــوره چــې نــن هســې پــرون هســې

معـز الله خـان پـه کـلام کښـې د پـوهې، فلسـفې او علميـت دردانـې د شـعر پـه مـزي کښـې داسـې پـه هنـر پېيلـي دي چـې ببخـي پـه ذهـن بـار نـهٔ محسوسـېږي بلکـې د فرصـت سـبب وګرځـي. د علـم درانـهٔ ولونـه پـه داسـې هنـر واکـول چـې قـاري تـه هډو د درانښـت پتـه و نـهٔ لګـي او د روح د خوشـحالۍ سـبب وګرځـي. دا کمـال فقـط د ځينو شاعرانو په نصيب وي.

"د دهٔ د کــلام نــه معلــومېږي چــې ښــهٔ عــالم او پوهــ ســړى وو او پــه ادبيــاتو کښـې يـې ښـهٔ لاس ؤ. د معـز الله خـان اکثـر اشـعار عشـقي دي. پـه کـلام کښـې يـې ادبـي نزاکتونـه، تلازمـات او صـنائع و بـدائع هـم ليـدى شـي. خـو سـره د دې د دهٔ کلام اسان او سليس هم دى"(23).

معـز الله خـان د تخيـل يـوه بيلـه رومـاني دنيـا سـازوي. چرتـه چـې د غـم نـوم نـهٔ وي فقـط د جانـان غېـږه وي. يـوه ښـکلې رومـاني فضـا وي. چرتـه چـې د شـرابو پـه ځـائ د جانـان مخمـورې سـترګې مخـامخ وي ځکـه چـې کـوم خونـد او نشـه چـې د ښـکلي جانان په آهو چشمو کښې ده هغه په شرابو کښې تصور هم نهٔ شي کېداى.

کــــه فلـــــك وكـــــړي گــــردش پـــــه كــــام زمـــــا
گونــــــدې كښـــــېوځي دا آهـــــو پـــــه دام زمـــــا

زۀ چـــــې تــــل مخمـــــورې ســــترگې د يـــــار وينـــــم
ډك پـــــه ميــــــو د عشـــــرت شــــو جــــام زمـــــا

"خـداۍ خبـر چـې ولـې د معـز الله خـان مومنـد د شـاعرۍ د لوسـتو سـره سـم د انگرېـزي ادب رومـاني شـاعر ايـس ټـي کـالرج او د هغـوۍ مشـهور تخيلاتـي نظـم "Kubla Khan" ذهـن تـه راشـي. د معـز الله خـان پـه کـلام کښـې د رومانيـت کـرۀ ورۀ بېخـي څرگنـد دي. هـم دې وخـت معـز الله خـان د رحمـان بابـا غونـدې صـوفي شـاعر پـه توگـه چـې د شـاهانو لـه دولتـه بـې پـروا او د دروېشـانو پـه خـدمت بهـره منـد ښکاري"(24).

معـز الله خـان د خپـل ښـكلي محبـوب ذكـر د تشـبيهاتو او كنـايو پـه مرسـته پـه داسـې ښـكلي او رومـاني ډول كـوي چـې هـم د جـدت تقاضـې پـوره كـوي او هـم د رومانيـت. مومنـد د پابنـدۍ كرښـې نـۀ منـي. هغـه ډېـر پـه ازادۍ د تخيـل پـه ډگـر د شعر نيلى زغلوي:

اور مـــــې بــــل پـــــه هـــــر انـــــدام د اشـــــتياق شـــــي
چـــــې جلــــوه كــــــړي هغــــه گــــل انــــدام زمـــــا
مــــا چـــې وصــــل پـــه هجــران كښـــې د يــــار و مونــــد
پـــــه رڼـــــا ورځـــــې بــــدل شــــو شــــام زمـــــا

دغـه رنـگ د رحمـان بابـا د سـبك غـړى پـه ملنگـۍ كښـې بادشـاهي كـوي. د ملنگۍ تاج د بادشاه د تاج نه غوره گڼي.

چـــــې لــــوگى يـــــې د دونهـــــې شـــــي پـــــه ســـــر تــــاج
بادشـــــاهان د زمــــــانې يـــــــې شـــــــي محتــــــاج

معـز الله خـان مومنـد د انسـان دپـاره ډېـر لـوړ مقـام خوښـوي. پـه خپـل تخيـل كښـې د انسـان عظمـت د هرڅـۀ نـه لـوۍ وينـي او غـواړي چـې دغـه عظـيم انسـان خپـل عظمـت او درانښـت پـه هـر صـورت قـائم وسـاتي ځكـه چـې د انسـان اصـل ښكلا د هغۀ په عظمت كښې ده:

د زړۀ ملـــــك و تـــــه رخنــــه بــــــده پيـــــدا شــــي
هــــــر چـــــي وازه كانـــــدي خولـــــۀ پـــــه احتيــــاج

معـز الله خـان د انسـان د عظمـت قـائم سـاتلو دپـاره د وړو وړو خـدايانو څخـه بغـاوت ضـروري ګڼـي او كـه څـوك دغـه دنيـاوي ويـره لـه زړۀ نـه وباسـي نـو ازاد بـه شي، خوشحال به شي، د فطرت ملګرى به شي.

ځـــان پخـــوا تـــر مرګـــه ووژنـــه چـــي خـــلاص شـــې
اخســـــتې نــــۀ شـــــي لــــه مړيــــو څـــوك خـــراج

دنيـا د مصـلحت ښـكار ده د عقـل و شـعور پـه لار روانـه ده ولـې معـز الله خـان د عقـل پـه ځـاى د زړۀ منلـي دي. د هـوش پـه ځـاى د حـوش نـه كـار اخلـي. هغـه مجبـوري نـۀ منـي او د خپلـې خوښـې پـه جـذباتي لاره روان دى. د چـا هـېڅ پـروا نـۀ لري او هم دغه انداز د روماني شاعرانو دى:

كـــــه عـــــالم تـــــه لېـــــونى شـــــوم شـــــكر دا كـــــړم
چـــــې د عشـــــق و هوښـــــيارانو تـــــه دانـــــا شـــــوم
چـــې پـــه وصـــــل كښـــــې يـــــې هـــــم قـــــرارى نـــــۀ وي
د دې هســــــــې زړۀ پـــــــه چـــــــا وكـــــــړم عـــــــلاج

خـو زمـونږ رومـاني شـاعر پـه دې پـوه دى چـې د مهريـانو وصـال ډېـره پـه كـړاؤ دى او پـه دغـه مـرض چـې څـوك اختـه شـوى دى. د هغـوئ عـلاج ډېـر پـه ګرانـه كېږي. خو بل خوا د عاشقانو مجبوري ده:

چــــــې وصـــــــال د مهريـــــــانو همـــــــېش غـــــــوارم
افلاطـــــون بـــــه مـــــې پوهـــــ نـــــۀ شـــــي پـــــه مـــــزاج

معـز الله هـر وخـت پـه تصـور كښـې ډوب وي. د تصـور پـه ائينـه د جانـان ديـدن كوي. كه د وصال نه محروم دى خو د تخيل مارغۀ يې ازاد دى. هم دغه سبب دى:

زۀ چـــــې ســـــتا هـــــلال ابرويـــــې يادومـــــه
پـــه جهـــان يـــې لكـــه مياشـــت انګشـــت نمـــا كـــړم
آهـــــو چشـــــمه لـــــه پـــــه رم لـــــه مانـــــه ګرځـــــې
كـــــه هـــــر څـــــو يـــــې ډېـــــره ډېـــــره دلاســـــه كـــــړم

د رومانیت خوبي دا ده چې د جذبې او تخیل رواني لري. په زړهٔ بوجهه نهٔ راولي. د معز الله خان اکثر شعرونه په دغه تعریف پوره پرېوځي. د هغوئ شعرونه د عقل په ځائ په زړهٔ پرېوځي. د فکر په ځائ جذبه ولړزوي او دلیل او ثبوت په ځائ تخیل ته اپیل کوي:

چې یې بې جفا څه نهٔ زده نهٔ پوهېږم
چې د ښکلیو دی څه رسم څه رواج
نهٔ پوهېږم ستا و زلفو ته څه وایم
شب قدر که برات که شب معراج

"رومانیت او کلاسیك د ادب په دنیا کښې دوې ډېرې ژورې او فکر انګېزې نظریې دي او د دواړو سرحدونه په یو بل کښې دومره ننوتي دي چې د یو تر بل جدا کېدل یې هم اسان کار نهٔ دی. که چېرې مونږ دا ووایو چې دا د ادب دوې لونړه دي چې یوه غرځنی ده. د فطرت په رنګینه ازاده غېږه لویه شوي ده او بله لږ سنجیده خوئ لري نو بده به نهٔ وي. که چېرې د دواړو خویونه په یو مناسب مقدار سره یو شي نو د لتهون تکمیل به وشي کوم به چې غېر فطري وي. ځکه چې داسې به تخیل یعنې ائیډلزم په رئیلزم (حقیقت) کښې بدل شي. خو چونکې ژوند (چې ادب یې آئینه ده) د لتهون دویم نوم دی نو ځکه یې تحلیل نهٔ کېږي. د ادب دا دواړه خویندې خپلو کښې مینه کوي خو ولې خپل منفرد خویونه منفرد ساتي.

د رومانیت په عناصرو کښې په احساساتو تکیه، تخیل او حیرانتیا زړې او فطرت ته نزدې او د لرې وطنونو او وختونو سحر انګېزه خبرې، انفرادیت او د خپلو خبرو په خپله طریقه اظهار کول هم شامل دی. رومانیت په مثال د یو سراب دی چې په ورنزدې کېدو یې منزل (آئیډئیلزم) لرې کېږي.

معز الله خان مومند د خپل وخت یو داسې روماني شاعر دی چې د خپل تصور نیلی یې د شعر په میدان کښې ښهٔ په زوره زغلولی دی او خپله خبره یې د شعر په ژبه خلقو ته ډېر په ښکلي ډول رسولې ده. هغوئ لوستونکي اول خو تر لرې دمې ګوته نیولی بیایي ولې وروسته لوستونکی د جذباتو او تحیر په ډګر پرېږدي او مومند په خپله ترې د تخیل او رومان په لوړ کمر ودرېږي او لوستونکی د حیرانی سره په سوچ او فکر مجبور کړي. هسې هم د رومانیت یوه خاصه خلق د

ادب پـه پُـر پېچـه لاره د خيـال پـه رنګينيـو کښـې د لـږ سـاعت دپـاره د ګرځولـو او ورکولو نوم دی او په دغه ډګر مومند ښهٔ کامياب زغل کړی دی"(25).

د معـز الله خـان مومنـد زيـات شـعرونه د نازکخيـالۍ، تشـبهياتو، کنـايو او د حسـن و عشـق د موضـوعاتو پـه سبب د حميـد بابـا، علـي خـان، کـاظم خـان شـيدا او کامګـار د سـبك ښـکاري. بلکـې سلاسـت او روانـي پـه کښـې ببخـي د رحمـان بابـا د سـبك ده. ولـې ځينـې شـعرونه يـې د خوشـحال پـه آهنـګ کښـې وئيلـي دي. خـو د مينـې او د راز و نيـاز خبـرې يـې د شـعر پـه صـورت پـه داسـې روانـۍ، ښـکلي، سـاده او پـه زړهٔ پـورې انـداز کښـې وئيلـي دي چـې شـعرونه يـې ببخـي د اوسـنۍ زمانې معلوميږي. خوشحال وايي:

دواړه ســـــترګې تصـــــويري ځنبـــــل مـــــې نـــــهٔ وې
چـــې مـــې ســـترګې ښـــهٔ جمـــال و تـــه کاتـــهٔ کـــا

معز الله وايي:

زهٔ چـــې کلـــه ځيـــر شـــم د خوبـــانو و رخســـار تـــه
پـــاتو شـــي تصـــوير غونـــدې بـــې روحـــه تـــن زمـــا
وازې پـــاتې د تصـــوير شـــوې دواړه ســـترګې
چـــې يـــې زيـــر پـــه نظـــر وليـــد روئ دا ســـتا

د معـز الله خـان پـه کـلام کښـې لويـه برخـه د حسـن و عشـق پـه شـعرونو مشـغله ده. د کـلام پـه دغـه برخـه کښـې هغـوئ د خپـل وجـدان، جـذباتو، تخيـل ښـهٔ پـه ارت مـټ طبـع ازمـائي کـړې ده. د هغـوئ د کـلام دغـه برخـه ده چـې هغـوئ تـه د رومانيـت تاج ور په سر کوي:

د ســـــمن تـــــر ګلـــــه ســـــپين دی روئ دا ســـــتا
د حنظـــا تـــر مشـــکو نـــور دی مـــوئ دا ســـتا

کـــه مـــې عيـــب کـــه مـــې هنـــر دی هـــم مـــې دا دی
د يـــار عشـــق دی دغـــه عيـــب هنـــر زمـــا

د اســـمان شـــمس و قمـــر معـــز الله ځـــهٔ کـــړم
مـــخ د ترکـــو دی ســـپوږمۍ او نمـــر زمـــا

چـــې جـــدا لـــه دلربـــا یـــم الغیـــاث
دروغـــژن یـــم چـــې لا پـــایم الغیـــاث

مـــا چـــې خـــوښ کـــۀ تـــر هـــر کـــاره کـــار د عشـــق
ســـري کـــار مـــې شـــۀ همـــېش روزګـــار د عشـــق

خـــوب بـــه چرتـــه زمـــا ســـترګو لـــه را درومـــي
چـــې پـــه ســـترګو کښـــې مـــې ګرځـــي خـــار د عشـــق

معـــز الله مـــې پـــه روزګـــار کښـــې د عشـــق ولیـــد
چـــې قـــائم دی پـــه مقـــام کښـــې د مجنـــون

کـــه د خلقـــو تـــر نظـــره ســـپك ښـــکارېږي
عاشـــقان پـــه لېونتـــوب کښـــې شـــي درانـــۀ

د معـز الله خـان د کـلام زیاتـه برخـه لکـه د ایـران د فارسـي شـاعرۍ د ګـل و بلبـل، شـمع و پتنـګ لـه قصـو، د هجـوو لـه کیفیـاتو او د محبـوب د خـط و خـال او ښایسـت د صـفتونو او تشـبیهاتو وغېـره قسـم څېزونـو نـه چـاپېره ګرځـي او ښـایي هـم داسـې ځکـه چـې غـزل وایـي هـم عشـق بـازۍ او د معشـوقو سـره خبـرو کولـو تـه. په دې لحاظ معز الله خان د غزل پوره حق ادا کړی دی"(**26**).

هـم دغـه سـبب دی چـې د رحمـان بابـا پـه څېـر معـز الله هـم حېـران دی چـې تراوسه یې اور په کلام ولې نۀ دی لګېدلی.

و دې خپـــل آتشـــین شـــعر تـــه حېـــران یـــم
چـــې یـــې پـــورې نـــۀ شـــۀ اور پـــه عبـــارت
پـــه زړۀ شـــق شـــۀ تـــور لـــوګی ورنـــه روان شـــۀ
چـــې خبـــر شـــۀ پـــه احـــوال قلـــم زمـــا

د معز الله خان دغه انداز خو وګورئ:

اچومـــــــه لاس د زلفـــــــو و رســـــــو تـــــــه
زۀ چـــې تللـــی یـــم پـــه چـــا د زنخـــدان ډوب

بس کړه چې دې لاس زما د زړۀ په وينو سرۀ دي
څۀ لره دې پورې کړې نکريځې په منګل

په شعر کښې د رحمان بابا په څېر سادګي او رواني پيدا کول د هر چا کار نۀ دی خو معز الله تر ډېره حده په دغه ډګر کښې ښۀ چابکت قدمونه اخستي دي:

د يار مينې اثر وکۀ په ما ورو ورو
لکه نمر يې په جهان کړم رسوا ورو ورو
په ناموس په ننګ و نام مې نظر نۀ دی
دا همه واړه شو پاتې له ما ورو ورو
ستا د حسن په ديوان مې نظر وکۀ
دوه مصرعې مې دي د ورځو انتخاب کړې

د ګل، بلبل، چمن، بهار ذکر هر څوک کوي خو چې کله يې مومند د شعر زينت ګرځوي نو يو نوی خوندی پيدا کړي او دغه څيز د رومانيت زړۀ دی چې معز الله اثر په کښې ښۀ کامياب ښکاري:

سترګې دي که توري دي که سحر که افسون دی
مخ دی که لاله دی که شعله دی که ګلګون دی
خط دې په سپين مخ دی که حرفونه د کتاب دي
يا د مور چګانو خپل و قندو ته په يون دی
چې نظر دې و سرو شونډو ته څوک وکا
له مستۍ کا سترګې پټې وازه خولۀ کا
کم به نۀ شي محبت له ما که ومرم
بوئ کمې په سولول د صندل نۀ کا

د رومانيت دغه ډك انداز خو هم وګورئ:

څوک دې چې به لاس د ستا د تن تر چندڼ وروړي
پاس پرې باندې ځانګې ښاماران د تورو زلفو

معز الله پښتون شاعر دی. پښتون شاعر هسې هم فطرت ته نږدې وي او بیا چې د معز الله مومند غوندې قادرالکلام شاعر هم وي نو د تخیل باز یې لا په بره ځي:

خیال د یار مې همېشه په خاطر ګرځي
په زندان دننه کړم د بوستان حظ

چې مې نقش کا صورت د یار په زړهٔ کښې
زهٔ کومه د وصال په هجران حظ
ساقي واچوه پیاله له خپله لاسه
چې ګلونه شي په باغ کښې د بهار ګډ
نن بهار دی ساقي جام د میو راکړه
چې توبه د نصوحا پرې کړمه ماته

په هر حال معز الله خان مومند هغه پښتون شاعر دی چې هم یې د خپلو مشرانو په پل پل ایښې دی. او هم یې ترې بغاوت کړی دی. د رومانیت ټول کړهٔ وړهٔ د معز الله خان د شاعرۍ برخه ده. اګرچې د هغهٔ د شاعرۍ یوه لویه برخه د اخلاقیاتو په وړانګو منوره ده خو د حسن و عشق موضوع یې چې په کوم نوي رنګ، لوړ تخیل، جذباتو، تشبیهاتو، کنایو او په زړهٔ پورې ساده ډول بیان کړې دی. د هغې مثال ډېر کم دی او هم دغه خوبي دي چې د معز الله خان مومند روماني اړخ ته تقویت وربخښي:

نم له زړهٔ مې بهو راښکو و لېمهٔ ته
دې وریځې دا باران په تیراه یوور

❀❀❀

# حوالې


(1) لواغری، پروفیسر ډاکټر ستارخان، د سید حسن استاد په شاعرۍ کښې د کلاسیکیت او جدیدیت، سید حسن استاد، ژوند او فن، ترتیب وتدوین وزیر شادان، بنارس خان خټک، حرم پرنټرز پېښور، 2009ء مخ 77.

(2) سائل، خواجه محمد، رومانویت او عبدالحمید بابا، لاهور، 1996ء، مخ 65-66.

(3) خټک، پروفیسر فضل میر، فضلیات، ANA پرنټرز لاهور، 1999ء، مخ 341- 342.

(4) داؤد، داور خان، د پروفیسر خواجه محمد شخصیت فکر و فن، رومانویت او عبدالحمید بابا، خواجه محمد سائل، مخ 17.

(5) ابوالاعجاز، حفیظ صدیقي، کشاف تنقیدي اصطلاحات، مقتدرهقومي زبان اسلام اباد، 1985ء، مخ 150.

(6) احسن فاروقي، ډاکټر، تخلیقي تنقید، مخ 39- 41.

(7) ابو الاعجاز، مخ 150.

(8) عابد، سید عابد علي، پروفیسر، اصول انتقاد ادبیات، مجلس ترقي ادب، لاهور، 1966ء طبع دویم مخ 121 – 122.

(9) لواغری، مخ 77.

(10) اصول انتقاد ادبیات، مخ 133- 134.

(11) ابو الاعجاز، مخ 91- 92.

(12) داؤد، داور خان، مخ 18.

(13) رومانویت او عبدالحمید بابا، مخ 76 – 77.

(14) سجاد علي خان، پروفیسر، په پښتو ادب د رومانیت اثر، ناچاپ، مخ 1

(15) مجذوب، عبدالرحیم، د روماني تحریک پس منظر خصوصیات او پښتو ادب ته راتګ، جرس نظم نمبر، کراچۍ، 2001 – 2002، مخ 169 – 174.

(16) خټک، راج ولي شاه، رومانیت او پښتو نظم، جرس نظم نمبر، 2001-2002ء، مخ 178 – 179.

(17) هم دغه بره، مخ 178.

(18) هم دغه بره، مخ 179- 180.
(19) افضل رضا، پروفیسر، د پښتو غزل، پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټي، 1978، مخ 119.
(20) مومند، معز الله خان، دیوان معز الله خان مومند، مسمٰی به ائینه معنا نما، تدوین و مقدمه خیال بخاري، پېښور، مخ 22- 25.
(21) خټک، اقبال نسیم، ډاکټر، د رنګ اوبو قافله، (تحقیق و تنقید) اداره علم و ادب پاکستان پېښور، 1991ء، مخ 279.
(22) هم دغه بره. مخ 276.
(23) حبیبي، عبد الحی، پښتانهٔ شعراء، لومړی ټوك، ادبي خدمت، قاسم بنوي، بنوں، س ن، مخ 67.
(24) سجاد علي خان، پروفیسر، ناچاپ، مخ 5.
(25) تنها، محمد ظفر، پروفیسر د معز الله خان مومند یو شعر، ناچاپ، مخ 1- 2.
(26) مومند، معز الله خان، دیوان معز الله مومند مسمٰی به ائینه معنا نما، تدوین و مقدمه خیال بخاري، پېښور، مخ 28 – 29.